د پروژې اطلاعاتی پاڼه د انګلیسی ژبی د 9 می 2013 د بنی څخه ژباړل شوې ده

# د پروژې اطلاعاتي پاڼه

د پروژې اطلاعاتي پاڼه کې د پروژې یا د پروګرامه په اړه معلومات شامل وي: دا چې د پروژې اطلاعاتي پاڼه کې د فعالیت د جریان په اړه معلومات ورکول کیږي، نو کیدای شي چې په لومړنیو پاڼو کې ځینې معلومات نه وي شامل شوي، او د معلوماتو د ترلاسه کیدو سره هغه معلومات شامل کړل شي. د وړاندیز شویو پروژو په اړه معلومات عمومي او تشریحي وي.

| | |
|---|---|
| **د پروژې د اطلاعاتي پاڼي د تولید نیټه** | – |
| **د پروژې د اطلاعاتي پاڼي د نوي کیدو نیټه** | د ۲۰۱۳ کال د اپریل ۲۹ |

| | |
|---|---|
| **د پروژې نوم** | د ترانسپورټي شبکي پراختیا د پانګوني پروګرام |
| **هیواد** | افغانستان |
| **د پروژې/پروګرام شمیره** | 44482-023 |
| **حالت** | تایید شوی |
| **جغرافیایي موقعیت** | ننګرهار، هلمند او پکتیکا ولایتونه |

د یو هیواد د پروګرام یا ستراتیژي د جوړولو په مهال، یا د پروژې تمویل، او یا د یو موضوع په اړه مرجع ورکول او یا نوم یادول، او یا په دغه سند کې د یو جغرافیایي سیمي یادول، په دي معنی نه دي چې د آسیا پراختیایي بانک د کومې موضوع په اړه په حقوقي دول قضاوت کوي او یا د کومي ساحي د وضعیت په اړه خپل نظر څرګندوي.

| | |
|---|---|
| **د سکتور او/ یا د فرعي سکتور صنف** | ترانسپورټ او معلوماتي تکنالوژي / ځمکني ترانسپورت |
| **موضوعی صنف بندي** | د ودتیا لوړول<br>د اقتصاد وده<br>سیمه ایزه همکاري او یوځای کیدنه |
| **د تولنیز جنسیت د شاملولو کتګوري** | – |

## تمویل

| د مرستي ډول/ بڼه | د تصویب شمیره | د وجوه سرچینه | تصویب شوی کچه (زره) |
|---|---|---|---|
| پور | | | |
| تخنیکي مرسته | | | |
| وړیا مرسته | 0327 | د آسیا پراختیایي صندوق | 176,000 |
| **تولیزه** | | | **255,000** امریکایي ډالر |

## د مصؤنيت کټګوري

د مصؤنيت د کټګوريو په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره لاندې ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ
http://www.adb.org/site/safeguards/safeguard-categories

| | |
|---|---|
| چاپېريال | بی |
| اختياري بیا میشت کیدل | ای |
| د سيمې اصلي اوسيدونکي | سی |

## د ټولنيزو او چاپېريال د موضوعاتو لنډيز

**د چاپېريال له نظره**

—

**اختياري بیا میشت کیدل**

—

**د سيمې اصلي اوسيدونکي**

—

## د اړونده دخيلو اړخونو تر منځ اړيکي، ګډون او مشوره

**د پروژې د طرحې او ډيزاين په مهال**

—

**د پروژې د پلي کولو په مهال**

—

## تشريحات

دوهم پړاو به د تاييد شوي MFF دواړو برخو سره مالي مرسته وکړي: د A برخه: د ترانسپورټ بنسټيزه پراختيا a) د ځېري ځخه تر جلال اباد پورې نږدې ١٠٦ کيلو متره سرک بيا رغول او پراخه کول( د کابل-جلال اباد سرک دوهمه برخه)، ددې سربيره د اړونده ډيزاين برابرول او د رهبري خدماتو تر سره کول، شامل دي؛ b) د نږدې ٣٢ کيلو متره د چاه انجير ځخه تر ګرشک پورې سرک بيا رغول (د لښکرګاه-ګرشک دوهم سرک) او ددې تر څنګ د اړونده ډيزاين برابرول او د رغولو چارو د مشرۍ خدمتونه وړاندې کول؛ c) د نږدې ٥٠ کيلو متره د شرنې ځخه تر انګور هډې پورې سرک په پکتيکا کې بيا رغول چې پدې کې به اړونده ډيزاين برابرول او د رغولو چارو مشرۍ خدمتونه تر سره کول هم شامل وي. ټول دسرکونوبسټيزې پراختيايي پروژې چې په دوهم پړاو کې شتون لري پداسې ډول سره ډيزاين شوي دي چې د ټولنې پرمختيا او امنيتي پلانونه پکې شامل دي.
د B برخه: د ترانسپورتي شبکې د مديريت وړتيا لوړول: a) د ټولګټو چارو وزارت د وړتيا لوړول چې پدې کې به بيا د منظم کولو ملاتړ چې د اصلاح شوي کاروباري يا بزنس پلان، ډيزاين پر بنسټ برابر شوی او د سرمايي تنظيم سستم هم پکی شامل وي؛ b) د ټولګټوچارو وزارت د پروژی مديريت او پانګونې پروګرام د پلي کيدلو ځخه ملاتړ کول چې پدې کې پيرل، څارنه، رغونه او د ترون برابرول، د خونديتوب پاليسي، د پلان برابرول، پلي کول او امکاناتو مطالعات شامل دي تر څو د پانګونې د پروګرام راتلونکی پړاو برابر کړي.

## د پروژې د معقولیت توجیه او د هیواد/سیمې د ستراتیژۍ سره اړیکې

لکه څرنګه چې په تایید شوي اړونده اسنادو کې په نظر کې نیول شوي دي، د پانګوني دوهم پړاو د محالني لومړي پړاو د فرعي پروژو او د ددې سکتور نورو پراختیایي ملګرو بشپړونکو هڅو پر بنسټ جوړ شوی دی، تر څو ټولنیز او اقتصادي فرصتونو لاسرسي ته پراختیا پر محال کورني او سیمه ایزې اړیکې پیاوړی کړي. په ټولیز ډول سره پدې وړاندیز شوي فرعي پروژو کې نږدې ۱۸۸کیلو متره سړک بیا رغول او پراخول شامل دي چې هر یو یې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ کې مخکې په ګوته شوی دی او وروسته په ملي پلان او د پلي کیدلو په کاري چوکاټ کې یاد شوي دي. ددې وړاندیز شوي فرعي پروژو معقولیت په لاندې ډول دی.

I. د پاکستان سره چې د افغانستان لوی سوداګریز ملګری دی، د پولې څخه د تیریدلو راتیردلو په وړتیا کې زیاتوالي رامنځته کول.
II. د پنځم او شپږم CAREC لویو لارو د بشپړولو ملاتړ کول
III. د مهمو ملي د سړکونو شبکې بشپړول چې د حلقه ایز سړکونو او ولایت مرکزونو ترمنځ اړیکې جوړوي. او
IV. او همدارنګه د سړکونو خراب فزیکي حالت چې په ټرانسپورټ، دافغانستان جنوبي برخې اقتصاد او سیمه ایزې سوداګرۍ کې ستونزې راولاړوي.

د کلونو کلولو کارولوڅخه وروسته او په منظم ډول سره د مراقبت نشتوالي په پایله کې د فرعي پروژو سړکونه په ډیر خراب حالت کې دي او په لویه کچه بیارغولو ته اړتیا لري. په جنوبي ولایتونو کې ددې سړکونو حالت اقتصادي پراختیا ټکنی کوي او په سیمه ایزې سوداګرۍ اود بدیل سوداګریزې لارې په پرانستلو ناوړه اغیز کوي، او پداسې حال کې چې ترافیک مخ په زیاتیدو دی، دغه سړکونه خپل موثریت له لاسه ورکوي. د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ د ملاتړ تر څنګ، د دې دوهم پړاو معقولیت په مرکزي اسیا کې د افغانستان ستراتیژیک جغرافیوي ثقل مرکزڅخه راولاړیږي. او د شمال او جنوب، ختیځ او لویدیځ سیمه ایز سوداګریزو لارو تر منځ د یوې اړیکې په ډول کار وکړي. د افغانستان څخه درې لویې CAREC لارې تیریږي چې ددې لپاره وړاندیز شوي د دوهم پړاو فرعي پروژې د پنځم او شپږمې لوی لارو ملاتړ کوي او ددې پوسیله په وچه کې راګیر د مرکزي آسیا لپاره د جنوبي آسیا مشهور سوداګریز مرکزونو ته او همدارنګه د فارس خلیج او عرب بحیرې ته لاسرسي برابریږي.

د افغانستان یو موثر او ثابت د سړکونو شبکه به سیمه ایزو اړیکو ته پرمختګ ورکړي او مخ پر زیاتیدونکي کورني اونړیوالي سوداګرۍ څخه به ملاتړ وکړي او خلکو ته به دندې پیدا او اقتصادي وده به رامنځته کړي. دغه وړاندیز شوی پړاو یو ثابت پړاو دی چې پانګوني پروګرام او CAREC 2020 ستراتیژۍ به یې د وړاند وینې سره سم پایلې ،لاسته راوړنې او اغیزې ولري. ددې ستراتیژۍ موخه لومړیتوب لرونکو سړکونو ته پراختیا ورکول، او د ترانسپورټي نښلولو له لارې سوداګرۍ ته وده ورکول او د پولې یوې خوا څخه بلې خوا ته د توکو د لیږد لپاره اسانتاوې برابرول دي.

## پراختیایي اغیز

د جنوبي ولایتونو د سړکونو په سمه توګه نښلول او موثریت چې دا به د پاکستان سره د پولې په نښلولو باندې تمرکز وکړي.

## د پروژې لاس ته راوړنې

| د لاس ته راوړنو توضیحات | د لاس ته راوړنو په لور پرمختګ |
| --- | --- |
| جوړ شوي او بیا رغول شوي ملي او سیمه ایزې لویې لارې | – |

## د لاس ته رواړنو او پلي کیدلو پرمختګ

| د پروژې د لاس ته رواړنو تشریحات | د پلي کیدو د پرمختګ حالت ( محصولات، فعالیتونه، او ستونزې) |
| --- | --- |
| –بیا رغول شوي ۱۸۸ کیلو متر سړک (د څېري-جلال اباد، شرنه-انګورهډه او چان انجیر-ګرشک برخي) او په سمه توګه مراقبت شوي ملي او سیمه ایزې لویې لارې. د ټولګټو چارو وزارت وړتیا لوړه شوی. | – |

| د پراختیایي موخو حالت | د توکو بدلول |
|---|---|
| — | — |

## د سوداګرۍ فرصتونه

| | |
|---|---|
| **د لومړۍ لیست کولو نیټه** | ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ځلورمه نیټه |

**د مشورې خدمتونه**
ټول مشورتي خدمتونه چې د دوهم پړاو څخه یې مالي مرسته تر لاسه کیږي، هغه به د آسیا پراختیایي بانک دسلاکارنو څخه د کار اخیستلو لاربښود او د دې بانک د پور ورکوونکو د لاربښود (په ۲۰۱۰ کال کې جوړ شوی او وخت پر وخت پکې بدلون راځي) سره سم به په دنده ګمارل کیږي.

**تدارکات**
د ټولو عامه کارونو، توکو او وسایلوپه پیرل به د آسیا پراختیایي بانک د پیرلو لاربښود (په ۲۰۱۰ کال کې جوړ شوی او وخت پر وخت پکې بدلون راځي) سره سم تر سره کیږي.

**د تدارکاتو او مشورې اعلانونه**
http://www.adb.org/projects/44482-023/business-opportunities

## مهال ویش

| | |
|---|---|
| **د مفهوم تصفیه** | — |
| **حقیقتونو موندنه** | — |
| **د مدیریت د بیا کتنې ناسته** | ۲۰۱۲ د نومبر ۲۲مه |
| **تصویب** | ۲۰۱۲ د دسمبر ۱۰مه |
| **د بیا کتنې وروستنې ماموریت** | — |

## لاس ته راوړنې او د عطف ټکي

| د تصویب شمیره | تصویب | لاسلیک | د اجر نیټه | پاې ته رسیدل | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | اصلي | نوې شوې | واقعي |
| | — | ۲۰۱۷و د جون ۳۰مه | ۲۰۱۳ د اپریل ځلورمه | ۲۰۱۳ د مارچ اوومه | ۲۰۱۲ د دسمبر ۱۰مه | 0327 وړیا مرسته |

## کارونه

| نیټه | د تصویب شمیره | آسیایې پراختیایي بانک (په امریکاې ډالرو) | نور (په امریکاې ډالرو) | خالصه سلنه |
|---|---|---|---|---|
| **د ترون په بنسټ تولیزه مرسته** | | | | |
| ۲۰۱۳ د مئ اتمه | 0327وړیا مرسته، | ۰ | ۰ | ۰۰٪ |
| **تولیزه ورکړل شوې کچه** | | | | |
| ۲۰۱۳ د مئ اتمه | 0327وړیا مرسته، | ۰ | ۰ | ۰۰٪ |

## د هوکړې حالت

هوکړې د لاندې کټګورۍ په بنسټ جوړې شوې دي – تفتیش شوې حسابونه، مصؤنیت، د ټولنیز سکتور، مالي، اقتصادي، او نور. د لاندې شاخصونو د پلي کیدو په مرسته د هوکړو د تطبیق کچه اندازه کیږي: (i) د قناعت وړ – په دغه کټګورۍ کې ټولې هوکړې منل شوې دي، او په اعظمي توګه یواځې یوه هوکړه بې نه وې منل شوې، (ii) په پرتلیزه توګه د قناعت وړ – چې تر اعظمي کچې دوه هوکړې بې نه وې منل شوې او یا دوه ژمنې نه وې پوره شوې، (iii) د قناعت وړ نه وې- چې درې او یا له هغه نه ډیرې هوکړې پکې نه وې منل شوې او یا نه وې پوره شویږ. د 2011 کال د اړیکو د عامه پالیسي له مخې، د هوکړې د منلو اندازه یواځې د هغه پروژو د مالي بیانیې لپاره د پلي کیدو وړ ده چې د 2012 د اپریل له 2 نیټې څخه وروسته را منځ ته شوې وې.

| د تصویب شمیره | کټګورۍ | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | سکتور | ټولنیز | مالي | اقتصادي | نور | مصؤنیت | د پروژې مالي بیانیه |
| وړیا مرسته0327 | – | – | – | – | – | – | – |

## اړیکې او د نوې کیدو په اړه جزییات

| | |
|---|---|
| **د آسیا پراختیایي بانک مسؤل آمر** | ډیوید هیل(dhill@adb.org) |
| **د آسیا پراختیایي بانک مسؤل ریاست** | مرکزي او لویدیزې اسیا پراختیا |
| **د آسیا پراختیایي بانک مسؤله څانګه** | د ترانسپورت او ارتباطي څانګه ، مرکزي او لویدیزې اسیا پراختیا |
| **پلي کوونکې اداره** | د ټولګټو چارو وزارت |

## اړیکې

| | |
|---|---|
| **د پروژې ویب پاڼه** | http://www.adb.org/projects/44482-023/main |
| **د پروژې د اسنادو لیست** | http://www.adb.org/projects/44482-023/documents |